# د پښتو، گوري او پالوري پرتلنه

څېړنپوه عبدالقيوم مشوانی

د پښتو، گوري او پالـــوري پرتلنه

څېړنپوه عبدالقيوم مشوانی

# Comparative Study of Pashto, Gawəri and Pālori Languages

Professor Abdul Qayoum Mashwanay

2023

ISBN 978-9936-661-76-9

9 789936 661769

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د بشري عـــــلومو معاونیت
د پښتو څېړنو نړیوال مرکز
د تألیف او ترجمې انسټیټوټ

# د پښتو، ګوري او پالوري پرتلنه

لیکوال:
څېړنپوه عبدالقیوم مشوانی

**د کتاب ځانګړنې:**

**د کتاب نوم:** د پښتو، ګوري او پالوري پرتلنه

**لیکوال:** څېړنپوه عبدالقیوم مشوانی

**ایډیټ او اهتمام:** څېړنپوه محمد نبي صلاحي

**د چاپ کال:** ۱٤۰۲ل / ۱۴۴۵ هـ ق

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای:** بهیر مطبعه

ISBN : ۹۷۸-۹۹۳۶ – ٦٦١ – ۷٦ – ۹

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمۍ سره خوندي دي.**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخگڼه**


د لارښود استاد نظر ........................................................ أ
تقریظ ........................................................ هـ
تقریظ ........................................................ ز
تقریظ ........................................................ ي
تقریظ ........................................................ ل
سریزه ........................................................ ۱
لومړی څپرکی ........................................................ ۹
د موضوع شالید ........................................................ ۹
دوهم څپرکی ........................................................ ۲۵
د گوریانو او ساویانو اتنیکي پېژندنه او استوگنځایونه ........................................................ ۲۵
درېیم څپرکی ........................................................ ۶۴
له پښتنو سره د گوریانو او ساویانو اړیکي ........................................................ ۶۴
څلورم څپرکی ........................................................ ۷۵
له پښتو سره په ژبني ډگر کې د گوري پرتلنه ........................................................ ۷۵
د مورفیم ډولونه ........................................................ ۹۶
دگوري ژبې لیکوال او شاعران ........................................................ ۱۹۵
پنځم څپرکی ........................................................ ۲۱۱
له پښتو سره په ژبني ډگر کې د ساوي پرتلنه ........................................................ ۲۱۱
پایله ........................................................ ۳۳۹
وړاندیزونه ........................................................ ۳۴۳
مأخذونه ........................................................ ۳۴۴

د څښتن تعالی په سپېڅلي نامه

## د لاربنود استاد نظر

ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده چې د تـاریخ پـه اوږدو کـې د انسـانانو تـر مـنځ د پوهولـو او پوهېدلو غوره وسیله او د څښتن تعالی یوه ستره پېرزوینه ده. د ژبې بېلابېل تعریفونـه وضـعه شوي دي چې هر یو یـې پـه خپـل وخـت د اهمیـت وړ دی، زه دلتـه یـواځې هغـه تعریـف رااخلم چې استاد الهام په خپل اثر «روش جدید در دستور زبان دری» کـې راوړی دی: «ژبـه د غږیزو سمبولونو داسې یو اکتسابي او میثاقي سیستم دی چې د ټولنې وګړي یې له یـو بـل سره د مفاهمې لپاره کاروي.»

له دې تعریف څخه دا پایله تر لاسه کېږي چې ژبه خپل ځانګړی جوړښتي نظام لـري لکه: د غږیز جوړښت نظام، د صرفي جوړښت نظام، د نحوي جوړښت نظام.

د ژبپوهانو د هغې شمېرنې پر بنسټ چې په ۱۹۶۴ز کال کې یـې تـر سره کـړې ده، پـه ټوله نړۍ کې له درېوو زرو څخه تر اوو زرو پورې د ژبـو د موجودیـت اټکـل کېـدای شي. په دې ژبو کې داسې ژبې هم شته چې ایله ۵۰۰۰ ویونکي لري. زمـوږ پـه هېـواد کـې هـم د دغسې ژبو چې د ویونکو شمېر یې لږ وي څرک لګېدای شي.

افغانستان چې د ټولو افغانانو ګډ کور دی، له ۳۰ زیاتې ژبـې پـه کـې ویـل کېـږي، آن ځینې ژبپوهان یې تر څلوېښتو لا هم زیاتې ګڼـي، خـو د یـادولو وړ خبره دا ده چـې ډېـرو کورنیو او بهرنیو ژبڅېړونکو کله کله لهجې هم د ځانګړو ژبو پـه توګـه معـرفي کـړې دي، د ساري په توګه شوماشتي ژبه یادولای شو چې اصلاً د پشه‌یي ژبې یـوه لهجـه ده؛ خـو ځینـو ژبپوهانو ځانګړې ژبه ګڼلې ده. زما په اند دا موضوع دقیقه څېړنـه غـواړي چـې دا څرګنـده شي چې په هېواد کې په ټولیزه توګه څو ژوندۍ ژبې شته دي، چې له یـوې خـوا یـې شـمېر کره شي، له بله پلوه باید د کار کولو تر څنګ یې د متروکېدو مخنیوی هم وشي.

تر اوسه د پښتو او دري ژبو لپاره زیات ګرامرونـه کښـل شـوي چـې زه دلتـه د دري ژبـې د ګرامرونو یادونه نه کوم، خو د موجودو معلوماتو له مخې د پښتو لـومړنی ګرامـر ډولـه اثـر د لـوی احمدشاه بابا د واکمنۍ پر مهال د پښتو پېژندل شوي شاعر پیرمحمد کـاکړ لیکلـی دی او بـل اثـر چې اصلاً پښتو - فارسي قاموس دی، خو ګرامري برخه هم لـري، ځینـو لا ګرامـر بللـی دی، دغـه اثر «ریاض المحبت» نومېږي چې نواب محبت خان په ۱۲۲۱هـ. ق کال لیکلـی دی او تـر اوسـه

نه دی چاپ شوی. د پښتو پخواني ګرامرونه زیاتره د بهرنیانو له خوا لیکل شوي چې د ځینو نومونه یې دا دي: ډارمستتر، مېجر راورټي،... پېنزل، یرژي بیچکا او...

په هېواد کې دننه په معاصره دوره کې د ګرامر لیکنې په اړه د دغو لاندې پوهانو نومونه د یادونې وړ دي: پوهاند صدیق‌الله رښتین، مولوي محمدشېرګل، پوهاند دکتور مجاوراحمد زیار، سرڅېړونکی دکتور عبدالحکیم هلالي، پوهاند محمدصابر خوېشکی، پوهاند محمدرحیم الهام، پوهاند حبیب‌الله تږی او...

زما په اند: داسې کوم ځانګړی اثر چې د پښتو ګرامرونه یا یې بېلابېلې برخې په خپل منځ او یا له بلې ژبې سره په کې په پرتلیزه توګه څېړل شوې وي او یا د نورو ژبو له ګرامرونو او یا ژبنیو جوړښتونو سره پرتله په کې شوې وي، نشته یا به ما ته نه وي معلوم چې اوږده سابقه دې ولري.

زما د معلوماتو له مخې لومړی څېړونکی څېړنپوه خیرمحمد حیدري دی چې د «دستور مقایسی زبانهای شغنانی- روشاني و پښتو» تر سرلیک لاندې یې په دري ژبه یو ځانګړی اثر لیکلی چې له نېکه مرغه چاپ شوی هم دی. په دې اثر کې د درېواړو ژبو ګرامري جوړښتونه په پرتلیزه توګه څېړل شوي دي.

چا چې په وروستیو وختو کې د پښتو او دري ژبو ګرامرونو یا ژبنیو جوړښتونو ته ملا تړلې، هغه څېړوندیه لېمه "خیال"ده چې لومړنی اثر یې د «بررسی مقایسوی و تحلیلی فونتیک زبانهای دری و پښتو» تر سرلیک لاندې بشپړ کړی او «بررسی مقایسوی نیولوګیزم و ترکیب ها در نثر معاصر زبانهای دری و پښتو» موضوع باندې یې کار پیل کړی دی. د دغو کارونو دوام به د هېواد د بېلابېلو ژبو د ویونکو اړیکي روښانه او داسې پیاوړې کړي چې په دې توګه به په یوه نه یوه بڼه د دغو ژبو د لا ښه پرمختګ او ودې سره مرستندوی واقع شي.

زما په نظر: دا به ښه وي چې دغه پرتلنې یواځې په ژبنیو برخو کې تمې نه شي، بلکې د دودونو او فولکلور په برخه کې هم پرتلنې او ګډې څېړنې پیل شي، د بېلابېلو ژبو لپاره ځانګړي سیندونه (قاموسونه) ولیکل شي، هغه ژبې چې تر ننه لا سمې نه دي پېژندل شوي او یا ورته کار نه دی شوی، کار ورته وشي او په علمي کړیو کې مطرح شي.

که دغسې څېړنې دوام وکړي، نو د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز به تر پخوا زیات د هېواد ژوندیو ژبو ته د کار کولو جوګه شي. پر دې مرکز سربېره د پښتو

څېړنو بین‌المللی مرکز هم د پښتو ژبې تر څنګ له نور ژبو سره د پښتو ژبې د پرتلنې چارو ته پام اړولی دی. د ساري په توګه: د دې مرکز یو فعال او هڅاند غړی څېړنوال عبدالقیوم مشوانی هم دغې برخې ته متوجه شوی او د څېړنپوه علمي رتبې ته د ترفیع لپاره یې «له پښتو سره د ګوری او ساوي ژبو اړیکي او پرتلنه» تر سرلیک لاندې علمي- څېړنیزه پروژه باندې شپږ کاله وړاندې زما تر لارښوونې لاندې کار پیل کړی چې دا دی له نېکه مرغه په خپل وخت یې بشپړه کړې ده.

**د نوموړې د اثر جوړښت:**

دغه اثر، سریزه، پنځه څپرکي، پایله، وړاندیزونه او د مأخذونو فهرست لري. لیکوال په سریزه کې له معمول سره سم له مقدماتي خبرو وروسته د کار پر میتود او د موضوع پر مبرمیت رڼا اچولې او ورپسې یې خپل اثر لنډ معرفي کړی دی.

په لومړي څپرکي کې یې د موضوع په شالید خبرې کړې او پر موضوع یې د شوي کار جاج اخیستی، ورپسې یې هغه۲۶ اثره په کرونولوژیک ډول معرفي کړي دي چې له موضوع سره نېغه اړیکه لري، د آثارو په تشه پېژندنه یې بسنه نه ده کړې، بلکې دغه آثار یې د ارزونې تر څنګ نقد کړي هم دي.

دویم څپرکی د ګوریانو او پالوریانو (ساویانو) اتنیکي پېژندنې او د استوګنځایونو څېړنې ته ځانګړی شوی دی.لیکوال د موضوع د ښې څرګندتیا لپاره له کره او معتبرو منابعو څخه ګټه اخیستې ده.

د دې اثر په درېیم څپرکي کې له پښتنو سره د ګوریانو او پالوریانو اړیکي په ټولنیزو، اقتصادي او فرهنګي ډګرونو کې په ګوته او څېړل شوي چې په ترڅ کې یې د درېواړو قومونو تر منځ د خپلوي او خپښیو موضوع هم له یاده نه ده ایستلې.

په څلورم څپرکي یې له پښتو سره ګوري ژبه پرتله شوې او په ترڅ کې یې د ګوري ژبې غړیز نظام ته هم ځغلنده کتنه شوې ده. ورپسې دغه دواړه ژبې د نحوې، فونولوژۍ او مورفولوژۍ په ډګرونو کې سره پرتله شوې دي.

د دې اثر په پنځم او وروستي څپرکي کې له پښتو سره په ژبني ډګر کې د ګوري په څېر پالوري ژبه هم پرتله شوې او دلته هم هماغه اړوند مسایل چې په ګوري ژبه کې په پام کې نیول شوي وو، له پامه نه دي غورځول شوي او لیکوال توپیرونه او ورته والي په ګوته کړي دي. بالاخره اثر په یوې ښې پایلې او د مأخذونو په فهرست پای ته رسېدلی دی.

د دې ټولو خبرو په پای کې د لیکوال د لارښود استاد پـه توګـه د څېړنـوال عبـدالقیوم مشواڼي د اثر په اړه خپل نظر په لنډه توګه داسې څرګندوم:

- لیکوال د کار له پیله خپل ترسره کړي کارونه ما ته سپارل، له کتلو او سمولو وروسـته مې د اثر په اړه د نظریاتو له شریکولو سره ورسپارل.

- کله چې یې اثر بشپړ کړ، یو ځل بیا مې سر تر پایه وکوت چې دا دی د وروستي ځـل تر کتلو وروسته یې په اړه خپل نظر وړاندې کوم:

- له دې سره سره چې د لیکـوال مـورنۍ ژبـه پښـتو ده؛ خـو لـه پښـتو سره د ګـوري او پالوري ژبو د ژبنیو برخو په پرتله کې پـه موضـوع بانـدې بریـالی او لاسـبری دی؛ نـو ځکـه یې څېړنه هم له علمي موازینو سره برابره ګڼم.

- د لیکنې ژبه یې روانه او هیڅ ډول پېچلتیا په کې نه لیدل کېږي.

- په څېړنه کې یې معیاري ژبه کارولې او پر سیمه ییزه لهجه یې ډډه نه ده لګولې.

- د لیکوالۍ اصول او لیک‌نخښې یې په پام کې نیولې دي.

-په ټولو برخو کې یې له پښتو سره د ګوري او پـالوري ژبـو پـه پرتلـه کـې د بېړنیـو او سرسري څېړنو پر ځای په پوره دقت ژورې څېړنې کړې او یوه کلمه او جمله یې لـه ډېـرو کسـانو څخـه څـو څو ځلې اورېدلې، پوښتلې او ثبت کړې ده، کله چې ډاډمن شوی بیا یې رااخیستې او پـه خپـل اثـر کې یې ځای کړې ده چې د لیکوال دغه ډول دقت د ستاینې وړ دی.

- د دریواړو ژبو د ژبنیو توکو په پرتلنه کې یې ژبنی انډول او توازن نه دی هېر کړی.

زه د لارښود استاد په توګه د نوموړي د دې انسـاني او فرهنګـي مینـې چـې پـر خپلـې مورنۍ ژبې سربېره د هېواد له نورو ژبو او وګړو سره یې لري، ستاینه کوم او ترسره کـړی کـار یې مثبت ارزوم او اثر یې ابتکاري بولم، ځکه چې په دغه حجم او دغسې دقـت سره تـر ده د مخه بل چا د ده غوندې اکاډمیک کار نه دی ترسره کړی او څېړنوال عبـدالقیوم مشـواڼی د دې اثر په بشپړولو سره د څېړنوال له علمي رتبې نه د څېړنپوه علمـي رتبـې تـه د ترفیع وړ بولم او په نورو دغسې او دې ته ورته علمي- فرهنګي چارو په ترسره کولو کـې ورتـه د سـتر څښتن تعالی له درباره د لا زیاتو بریالیتوبونو هیله کوم.

څېړنپوه نصرالله "ناصر"

د افغانستان د علومو اکاډمي د بشري علومو د برخې مرستیال

۱۳۹۸/۱۱/۵

## تقریظ

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ریاست محترم مقام ته!

ستاسې د ۱۳۹۸/۱۱/۲۲ل. نېټې د ۲۰۹۸پر ۲۴۱۳مه ګڼه لیک پر بنسټ ما د څېړنوال عبدالقیوم مشوانی علمي ـ څېړنیز اثر چې «له پښتو سره د ګوري او ساوي ژبو اړیکې او پرتلنه» تر سرلیک لاندې یې بشپړ کړی دی، سر تر پایه په ځیر سره ولوست.

څرګنده ده چې افغانستان یو ګڼ ژبیز هېواد دی، تر ۳۰ زیاتې ژبې په کې ویل کېږي. د دې ژوندیو ژبو په ډله کې یوه هم ګوري او بله یې ساوي ژبه ده چې دواړه د داردي ژبو په دوو بېلو څانګو پورې اړه لري. زموږ په هېواد کې د کوچنیو ژبو په اړه تر اوسه ترسره شوې څېړنې د نشت برابرې دي. تر اوسه لا دا هم په دقیق ډول ثابته نه ده چې کومه یوه ژبه او کومه یوه لهجه وګڼو. زموږ د پوهنتونونو د ژبو او ادبیاتو په پوهنځیو کې د افغانستان د کوچنیو ژبو یواځې نومونه اخیستل کېږي او په ژبني وېش کې یې پر دریځ بسنه کېږي.

له همدې امله اړینه ده چې دا کوچنۍ ژبې په خپله افغان څېړونکي وڅېړي؛ خو روان اوږده ناورین زموږ څېړونکو ته د څېړنې موقع نه ده ورکړې؛ نو د دې دوو ژبو په اړه هم تر اوسه د یادولو وړ علمي او اکاډمیک کار نه و شوی.

له نېکه مرغه دا دی د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز علمي غړي څېړنوال مشوانی، دې دروند پېټي ته اوږه ورکړه، تر منزله یې ورساوه او یو نوی اثر یې رامنځ ته کړ.

دا څېړنیز اثر د څېړونکي په سریزې سره پیلېږي چې د څېړنې پر اړتیا، د موضوع پر اهمیت او میتود رڼا اچوي. بیا په لومړي څپرکي کې «د موضوع شالید» تر سرلیک لاندې هغه آثار له نسبي کره کتنې سره راپېژني چې د موضوع په اړه لږ و ډېرې څرګندونې لري.

په دویم څپرکي کې لومړی له اتنیکي پلوه ګوریان او ساویان او د هغو مېشتځایونه راپېژني. ورپسې دا دواړه ژبې په هر اړخیز ډول د باوري سرچینو په رڼا کې راپېژني. لیکوال په دې اړه ټول ناسم نظریات په مستندو او پخو دلایلو سره رد کړي دي چې دا کار یې څېړنې ته د ژمنتیا معنا لري.

په دریېم څپرکي کې په ټولنیز ـ اقتصادي او علمي ـ فرهنګي ډګر کې له پښتنو سره د ګوریانو او ساویانو اړیکې په تفصیل سره څېړل شوې دي. په دې څپرکي کې له پښتنو سره د ګوریانو او ساویانو اړیکې او خپښۍ هم خورا ښې څېړل شوې دي.

څلورم څپرکی له پښتو سره د گوري ژبې پرتلنې ته ځانگړی شوی دی. لیکوال په دې څپرکي کې لومړی د یوې ځغلندې کتنې په ترڅ کې د گوري ژبې پر غږیز نظام یا فونټیک ژور بحث کړی دی. بیا یې گوري ژبه د صرف یا گرامري جوړښتونو او نحوې له مخې مفصله څېړلې ده. ورپسې یې د څپرکي په پای کې د گوري ژبې د ځینو شاعرانو پېژندنه او د شعرونو بېلگې راوړې دي چې لوستونکي د دې ژبې له ادبیاتو سره څه ناڅه اشنا کولای شي.

په پنځم څپرکي کې یې کټ مټ د څلورم څپرکي موضوعات په ساوي ژبه کې څېړلي دي. زه په لنډو ټکو کې د دې اثر په اړه خپل نظر داسې څرگندوم:

- د لیکوالۍ اصول او لیک‌نخښې په اثر کې په ښه ډول په پام کې نیول شوې دي.

- څېړنه یې ژوره ده. ټول موضوعات یې په پوره ځیرتیا سره څېړلي دي. په لیکنه کې څېړونکی هر ځای ترسترگو کېږي چې د لیکوال دغه ډول ځیرنه د ستاینې وړ ده.

- د درېواړو ژبو د ژبنیو توکو په پرتلنه کې یې ژبني اصول او قوانین تر پښو لاندې کړي نه دي.

- څېړنه یې د تقلید پر بنسټ نه ده ترسره کړې، د گوري او ساوي ژبې جوړښتونه یې په مښود (کړاو) سره موندلي او راپه گوته کړي دي.

- د څېړنې په بهیر کې یې له څنگیزو موضوعاتو څخه ډډه کړې او اصلي موضوعات یې په ځیر او غور سره څېړلي دي.

دا چې دا اثر د گوري او ساوي ژبو د گرامر لیکنې لپاره لومړنۍ منسجمه او اکاډمیکه هڅه ده؛ نو زه د مشواڼي ترسره کړې څېړنه مثبته ارزوم، اثر یې ابتکاري او د گوري او ساوي ژبو د بشپړې گرامر لیکنې لپاره غوره او گټور لارښود بولم.

په پای کې د دې علمي ـ څېړنیز اثر لیکوال څېړنوال عبدالقیوم مشواڼي ته د دې گټور او نوښتیز اثر د بشپړولو مبارکي وایم او که د ترفیع نور شرایط یې پوره کړي وي؛ نو د څېړنپوه علمي رتبې ته یې د ترفیع وړ او مستحق بولم. په راتلونکي کې ورته د الله جل جلاله له درباره نورې بریاوې غواړم. د عامې گټې اخیستنې لپاره د دې اثر د چاپ او خپراوي سپارښتنه کوم.

پوهاند محمدآقا "شېرزاد"

د ښوونې او روزنې پوهنتون د پښتو څانگې استاد

## تقريظ

که د يوې نيمې ژبې د نومونو د اخيستو څخه تېر شو، نو ويلای شو چې افغانستان د اندو اروپايي ژبو د اوږده تاريخ، تاريخي ورشو او زانګو ده. د دې ژبو په اړه بهرنيانو په تېره بيا ختيځ پېژندونکو ډېرې ګروېږنې او څېړنې کړې دي. په دوی کې داسې کسان هم شته چې دې سيمو ته راغلي او کار يې کړی دی، خو ستونزه په کې دا ده چې د مرستندويانو او همکارانو په نومونو يې د ډېرو بې معلوماتو او بې تجربو کسانو سره اړيکې نيولې، خپل مطلوب کارونه يې کړي او خپلې څېړنې يې په ليکلو بڼو نړيوالو ته وړاندې کړې دي، ځکه نو د سهوو، نيمګړتياوو او تېروتنو څخه خالي نه دي. زموږ پوهانو هم په دې برخه کې تر ډېره د دوی په پلونو، پلونه ايښي دي؛ خو په را وروسته وختونو کې زموږ پوهانو د زده کړو په برکت يادو ټکو ته پام کړی دی او په خپلو څېړنو کې يې يادو نيمګړتياوو ته نغوته کړې او د ساحوي څېړنو پر مټ يې سمونې په کې کړې دي چې دوی په دې برخه کې د موضوع حق تر ډېره پر ځای کړی دی.

څېړنوال عبدالقيوم مشوانی «له پښتو سره د ګوري او ساوي ژبو اړيکې او پرتلنه» تر سر ليک لاندې علمي، څېړنيزه پروژه په پنځو څپرکو کې ليکلې او بشپړه کړې ده.

په لومړي څپرکي کې يې د موضوع په اړه د ځينو کتليو آثارو ښېګڼې او منفي خواوې ښودلې دي او په انتقادي نظر يې ورته کتلي دي. د رسالې ليکوال په دويم څپرکي کې د ګوريانو او ساويانو په اتنيکي جوړښت او استوګنځايونو باندې غږېدلی دی، د ګوريانو شمېر يې د نا رسمي سرشمېرنې له مخې دېرش زره کسه ښودلی او ويلي يې دي چې دا خلک د ډيورنډ د کرغېړنې کرښې په دواړو غاړو کې اوسېږي.

د رسالې ليکوال د ګوري ژبې د سيمو يادونه هم کړې ده. د ساويانو په اړه هم پوره څېړنه پکې شوې ده او ويل شوي دي چې د ساو د کلي څخه علاوه تر فرضي کرښې ور پورې د چترال په دوو اړونـدو کليو کې هم استوګن دي. ليکوال په دې څپرکي کې د ساويانو، ګوريانو او د دوی د ژبو او استوګنځايونو په اړه ښه په تفصيل سره غږېدلی دی او تاريخي شواهد يې له پامه نه دي غورځولي، په همدې څپرکي کې د ګوريانو د شمېر ترمنځ توپير د مأخذونو په ښودلو سره په ګوته شوی دی، دا څپرکی ډېر مواد لري او د ښې پوهېدنې په غرض يې کتل خورا اړين دي.

د رسالې ليکوال په درېيم څپرکي کې له پښتنو سره د ګوريانو او ساويانو په هر اړخيزو اړيکو، لکه اقتصادي، ټولنيزو او نورو باندې پـه تفصيـل سره پـه روانـه ژبـه غږېدلی دی او پـه ټولو اړخونو يې پوره رڼا اچولې ده.

په دې څپرکي کې د پښتنو، ګوريانو او ساويانو د ګډ ژوند، ګډې ژبې، لباس، خوړو، مېوو، کرنيزو حاصلاتو او اداتو په باره کې د معلومـاتو څخه ډکه څېړنـه او ليکنـه خونـدي شوې ده.

ليکوال په څلورم څپرکي کې د پښتو ژبې سره د پرتلنې په ډګر کې د ګـوري ژبـې پـه فونولوژي باندې تم شوی دی، خو تر هر څه دمخه د ارياني ژبو په لړۍ کې د دې ژبـې پـه دريځ باندې رڼا اچـول شـوې او پـه دې اړونـد د بهرنيـو پوهـانو او څېړونکـو نظرونـه راوړل شوي دي. د همدې څپرکي په اوږدو کې دا هم ويل شوي دي چې د ګوري او ساوي ژبـو لپاره د پشه يي ژبې الفبا بشپړه او سمه ده، دا ځکه چې د داردي ژبـو غږيـز نظـام ورتـه والـی سره لري.

د ليکوال دا يادونه هم د پاملرنې وړ ده چې وايي: د ګوري او ساوي ژبو لپاره تر اوسه متفقه الفبا نه ده جوړه شوې. دا يادونه ژبپوهـان د سـتونزې د حلولـو لـوري تـه ور بيـايي. د صرف (مورفولوژي) او فونو لوژي په برخه کې يې ګوري ژبـه لـه پښتـو سره پرتلـه کـړې او ډېره خواري يې ايستلې ده. په دې پسې سملاسي يې د مورفيم ډولونه ښودلي دي.

په دې څپرکي کې د مورفولوژي او نحوې په برخو کې ډېره اوږده پرتليزه څېړنه شـوې ده او مشابهتونه او توپيرونه په بېلګو کې په ډېر ښه ډول په ګوته شوي دي. د دې تـر څنـګ يې په ګوري ژبه کې پښتو پور وييونه هـم يـاد کـړي، پـرې غږېـدلي او لـه پامـه يـې نـه دي غورځولي. د ګوري ژبې څو شاعران يې لنډ معرفي کړي او د دوی له خوا په دواړو ژبو کې د ويل شويو شعرونو نمونې يې هم په خپله رساله کې خوندي کړې دي.

پنځم څپرکی «له پښتو سره په ژبني ډګر کـې د سـاوي پرتلنـه» سر ليـک تـه ځـانګړی شوی دی. په پيل کې د ساوي ژبې غږيز نظـام تـه يـوه ځغلنـده کتنـه شـوې ده او د همـدې څپرکي د پيل څو کرښو نه وروسته ويل شوي دي چې ساوي ژبه لـس واولونـه لـري. د څـو نورو غږونو ځانګړنه يې هم نه ده هېره کړې، تر هغې وروسته لـه پښـتو ژبـې سره د سـاوي د فونولوژي او مورفولوژي يا پښويې په برخه کې ډېره ښه څېړنه شوې او هر يوه برخه يـې پـه ډېرې خوارۍ ګاللو سره د پښتو ژبې د اړوندو برخو سره پرتله کړې ده. دا يادونـه بايـد وکـړم

چې د ليکوال زيار او هڅې د ستاينې وړ دي. په دې اړوند د رسالې د همدې څپرکي کتل گټور دي. د همدې څپرکي په وروستيو کې يې د ساوي ژبې د يو شمېر شاعرانو پښتو او ساوي ژبو شعرونه هم راوړي دي او ورسره يې د پښتو، گوري، ساوي، دېگاني لغتونه مله کړي او د ښه پوهاوي په موخه يې په فونيمکي الفبا هم ليکلي دي. ليکوال خپله رساله د پايلې، وړانديزونو او مأخذونو په راوړلو سره پای ته رسولې ده.

دا رساله په ۲۴۳ـ A4 مخونو کې خوندي شوې او هغه راويان هم نه دي هېر شوي چې ليکوال څه ترې تر لاسه کړي دي. زه د دې رسالې په اړه خپل نظر په لاندې ډول څرگندوم:

۱ـ د رسالې محتوا لوړه ده او دا تومنه په کې شته، چې په راتلونکې کې به د نورو څېړونکو لپاره گټوره وي. زما په نظر خو دا اثر په خپله برخه کې نوی او ارزښتمن دی.

۲ــ د ليکوال د ليکنې ژبه خوږه او روانه ده، د رسالې د لوستلو په وخت کې لوستونکی د ستونزو سره نه مخامخ کوي. زما په اند خو يوه ليکنه بايد چې همداسې رنگ ولري.

۳ـ د دې رسالې د منځپانگې اهميت په دې کې دی چې تر ډېره ساحوي څېړنه شوې او د هر جز په اړه تر لاسه شوي مواد پوره ډاډمن دي.

۴ـ که له اوږدو خبرو څخه تېر شم، نو دا وايم چې څېړنوال عبدالقيوم مشوانی د څېړنپوه علمي رتبې ته د لوړېدو مستحق دی. په قلم يې برکت او په تن يې روغ لرې.

په پای کې د افغانستان د علومو اکاډمي له مشرتابه په درنښت هيله کوم، چې د دې رسالې د چاپولو تابيا وکړي.

څېړنپوه مولاجان "تنيوال"

د ژبو ادبياتو مرکز د پښتو انستيتوت د ژبپوهنې څانگې مشر

۴/۱۱/۱۳۹۸

# تقریظ

به اساس پیشنهاد نمبر (۲۴۰۵/۲۰۹۰) معاونیت محترم علوم بشری اکادمی علوم و بالاثر مکتوب نمبر (۲۹۷/ ۵٦۲) ریاست محترم مرکز بین‌المللی تحقیقات پشتو احتراماً نگاشته میشود؛ من اثر علمی ـ تحقیقی معاون سرمحقق عبدالقیوم مشوانی را که تحت عنوان «له پښتو سره د ګوري او ساوي ژبو اړیکي او پرتلنه» است، خواندم که برایم خیلی دلچسپ بود، البته باید گفت مقایسه و مقارنهٔ زبانها یکی از موضوعات مهم زبانشناسی میباشد چون زبانهای که از نظرِ منشأ، تحول و تکامل از یک اصل واحد منشعب شده باشد طبعاً با همدیگر تأثیر داشته و مقایسهٔ آنها یکی از کار های مهم زبانشناسی میباشد، روی همین ملحوظ آقای مشوانی مقایسهٔ زبان پشتو و زبانهای گوری و پالوری را از نگاهای مختلف ویژه‌گیهای زبانی مورد بحث و بررسی قرار داده است؛ افزون بر مقدمه موصوف در فصل اول به پس منظر موضوع رجوع نموده و در این زمینه از کارهای علمی پژوهشی پیشینیان نیز استفاده کرده است که بر ارزشمندی اثر شان می افزاید.

فصل دوم شان بر معرفی و شناختِ نژاد گوری‌ها و پالوری‌ها از نظر معارفه های اجتماعی اتنیکی و نژاد شناسی اختصاص یافته است که این کار در مأثر گذاری زبانها بالای همدیگر بسیار مؤثر بوده می تواند و این موضوع به صورت بسیار مفصل و گسترده به بحث و بررسی گرفته شده است که سعی و کوشش شان قابل قدر می باشد، همین گونه در فصل سوم ارتباط زبان گوری‌ها و ساوی‌ها با پشتونها از نظر فرهنگی، کلتوری، اجتماعی، اقتصادی، و مشابهت‌ها و آفرینشهای همدیگر در ساختار جامعهٔ لسانی به صورت بسیار دقیق و عالمانه مورد تحلیل قرار داده شده است که نمایانگر دقت و مطالعهٔ نویسنده در امر شناخت کلتور و فرهنگ گوینده‌گان این زبانها میتواند باشد و این کار از نظر مسایل زبان و لهجه ها بسیار با اهمیت است؛ زیرا واژه‌ها و لغات مختلف که در فرهنگ عامهٔ مردم مورد استعمال قرار می گیرد. برای جمع آوری مواد زبانشناسی بسیار ارزشمند و مفید پنداشته می شود.

فصل چهارم آن حاکی از آن است که مقایسهٔ زبان پشتو با زبان گوری از نگاهٔ فونولوژی، مورفولوژی و ویژه‌گیهای نحوی مورد مطالعه قرار داده شده است و تغییرات و تحولات فونتیکی و صرفی هر یک از این دو زبان در جدول‌های مختلف به صورت دقیق مورد پژوهش قرار گرفته است تا اهمیت و ارزش فونیم‌ها در تغییرات صرفی مؤثر پنداشته

شود که چنین کار شان در عرصهٔ زبانشناسی مقایسی قابل ستایش است. مضاف بر آن مختصات بعضی از ویژه‌گیهای هر دو زبان چون داستانها، متلها، سرودهای شان مورد تحلیل و پژوهش قرار گرفته است که این کار مطالعهٔ همه جانبهٔ نویسنده در خصوص مقایسهٔ زبانهای متذکره میتواند باشد.

به همین منوال در فصل پنجم نیز مقایسهٔ زبان پشتو با زبان پالوری از نگاهٔ فونولوژی، مورفولوژی و سنتکس مورد تقابل و مقایسه قرار داده شده است که این اثر علمی را بسیار مطبوع و علمی می نماید، زیرا تغییرات فونیمی، واژه‌گانی و نحوی در ساختار های هردو زبان بسیار عالمانه تحلیل و توضیح شده است؛ همچنان تفاوت‌ها و تباین مختلف صوتی و صرفی فی مابین آنها از نگاهٔ تحول و تطور زبانی با ارایهٔ مثالهای مختلف به وجه بسیار خوب ایضاح و شرح شده است که بر ژرف اندیشی علمی و تحقیقی نویسنده می افزاید، همین گونه معاون سرمحقق مشوانی اثرات زبان پشتو را که زبان محور مرکز آن مناطق است، در خصوص توسعه و گسترش زبانهای گوری و پالوری مؤثر دانسته است و از همین جاست که بسیاری از لغات و کلمات زبان پشتو در آن دو زبان تداول و شیوع یافته است و این خود می نمایاند که در رشد و تقویت زبانهای مذکور زبان پشتو مؤثر و مفید بوده است و این کار را نویسنده با الگوها و نمونه‌های بسیاری از کلمات در اثر علمی خویش نشان داده است.

فرایند سخن این که معاون سرمحقق مشوانی مطالعات و پژوهش‌های علمی شان را با پیشنهادهای سازنده و مفید تقدیم داشته، نامبرده را مستحق ترفیع از رتبهٔ علمی معاون سرمحقق به رتبهٔ علمی سرمحقق دانسته، چاپ و تکثیر کتاب را پیشنهاد مینماییم و موفقیت های بیشتر شان را از بارگاه خداوند متعال آرزو دارم.

سرمحقق شریف‌الله "شریف"

آمر دیپارتمنت زبانشناسی انستیتوت ادبیات دری

# تقریظ

د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز محترم مقام ته!

ستاسي د ۱۳۹۸/۱۱/۲۲ل. نېټې د ۵۶۳ پـر ۲۹۸ مـه ګڼـه لیـک پـر بنسـټ مـې چـې د څېړنوال عبدالقیوم مشواڼي علمي ـ څېړنیز اثر «له پښتو سره د ګوري او ساوي ژبو اړیکي او پرتلنه» تر سرلیک لاندې یې بشپړ کړی وکوت، په اړه یې داسې نظر څرګندوم:

ژبه انسانانو ته د خدای ﷻ یوه بې ساري ډالۍ ده چې پرته د هغې له کاروني انساني تمدن او پرمختګ نه رامنځ ته کېږي. کله چې انسانان د ځمکې پر مخ پیدا شول، بیا یې بشري ټولنې جوړې کړې. د زمانې په تېرېدو سره دغو بشري ټولنو وده او پرمختګ وکړ؛ نو له دې ودې او پرمختګ سره سمه ژبه منځ ته راغله.

ژبه یو لړ ارزښتناک غږونه دي چې انسانان یې د خپلو افکارو، خیالاتو او احساساتو د څرګندولو په موخه د غږیزو غړو په واسطه له خولې څخه راباسي او پـه دې توګـه پـه خپلـو منځو کې افهام او تفهیم کوي.

افغانستان له پخوا زمانو راهیسې یو ګڼ ژبیز هېواد دی چې تر ۳۰ زیـاتې مسـتقلې ژبـې په کې ویل کېږي. د دې ژوندیو ژبو له ډلې یوه هم ګوري او بله یې ساوي یا پالوري ژبه ده چې د اندو- اروپایي ژبکورنۍ کې ژبپوهانو د یو لـړ قوانینـو او معیـارونو پـر بنسـټ د داردي ګروپ په دوو جلا څانګو پورې اړوندې ژبې بللې دي.

د دې دوو ژبـو ویـونکي د کـونړ ولایـت د ناړۍ ولسـوالۍ په څو کلیـو او د ډېورنـډ تـر فرضي کرښې ورپورې غاړې په ځینو سیمو کې استوګن دي. د دې دوو ژبو په اړه تـر اوسـه علمي او اکاډمیک کار نه دی شوی او یا هم ډېر لږ او د نشت برابر دی.

سره له دې چې د څېړونکي پر وړاندې د داسې یـوې سـترې موضـوع څېړنـه پرتـه وه چې په اړه ډېرې لږې او څنګیزې لیکنې موجودې وې؛ خو نوموړې پـه دې لـړ کـې زیـاتې هلې ځلې تـرسره کـړې دي. د خپلـو څېړنـو او معلومـاتو د راغونـډولو لپـاره یـې زیـاتره پـه سیمه‌ییزو څېړنو ډېره ډډه لګولې ده. معلومات یې د خلکو له خولې د بېلابېلو وسیلو پر مـټ راټول، ثبت او تحلیل کړي دي؛ نو تر شننې او ارزونې وروسته یې بیا په خپل اثر کې ځـای کړي دي. زه یې په خپلې دغې موخې او هوډ کې ډېـر زیـات بریـالی بـولم او د دې درونـد

ځېړنيز کار په سرته رسولو کې يې د زغم او حوصلې ستاينه کوم.

دغه ځېړنيز اثر د ځېړونکي په سريزه پيلېږي چې د ځېړنې پر اړتيا، لنډې پېژندنې، د موضوع پر اهميت او ځېړندود يې بحث کړی دی. بيا په ترتيب سره لومړی څپرکی د موضوع شاليد تر سرليک لاندې هغه آثار د نسبي کره کتنې په ترڅ کې راپېژني چې د موضوع په اړه لږ و ډېر ځرګندونې لري.

په دويم څپرکي کې لومړی ګوريان او ساويان له اتنيکي پلوه را پېژندلي، د هغو مېشتځايونه يې راپه ګوته کړي او بيا يې د دواړو ژبو هر اړخيزه پېژندګلوي د باوري سرچينو په رڼا کې ترسره کړې ده. ليکوال په دې لړ کې ټول ناسم نظريات په مستندو او پخو دلايلو سره رد کړي دي.

په درېيم څپرکي کې له پښتنو سره د ګوريانو او ساويانو اړيکي، په ټولنيز - اقتصادي او علمي - فرهنګي ډګرونو کې په تفصيل سره ځېړل شوې دي.

څلورم څپرکی له پښتو سره د ګوري ژبې پرتلنې ته وقف شوی دی چې ليکوال په لومړي سر کې د ګوري ژبې غږيز نظام ځېړلی، بيا يې د ګوري ژبې ګرامري جوړښت يا صرف او نحوه ځېړلي او ځانګړنې يې ورته په بېلګو کې روښانه کړې دي. د دې څپرکي په پای کې يې د ګوري ژبې شاعران معرفي کړي او د شعرونو نمونې يې ورته راوړې دي چې لوستونکي د دې ژبې له ادبياتو سره په هر اړخيزه توګه بلدوي.

په پنځم څپرکي کې يې کټ مټ د څلورم څپرکي موضوعات په ساوي ژبه کې ځېړلي دي.

پر پورتنيو يادونو سربېره دا اثر نورې ځانګړتياوې هم لري: د ليکنې ژبه يې معياري ده. له ليکلړ سره سم يې د موضوع ځېړنيز حق ادا کړی دی. مأخذونه يې په علمي او اکاډميکو اصولو برابر دي. د ځېړنې په بهير کې يې له فروعاتو او څنګيزو موضوعاتو څخه ډډه کړې او د اصلي مطالبو په ځېړلو يې تمرکز کړی دی.

دغه اثر چې د ګوري او ساوي ژبو د ګرامر ليکنې لپاره لومړی هڅه ده، د يوه لارښود په توګه يې زيات ګټور بولم.

په پای کې زه د دې علمي ـ ځېړنيز اثر ليکوال ځېړنوال عبدالقيوم مشواڼي ته د دې ګټور او مغتنم اثر د بشپړولو مبارکي وايم او د ځېړنپوه علمي رتبې ته يې د ترفيع وړ او

مستحق بولم. په راتلونکي کې ورته د الله ﷻ له درباره د نورو برياوو هيله کوم او د عامې گټې اخيستنې لپاره د دې اثر د چاپ او خپرېدو سپارښتنه کوم.

ښېړنپوه عبدالشکور "قيومي"

د پښتو څېړنو د بين المللي مرکز غړی

## سریزه

انسان یو ټولنیز مخلوق دی، په ملیاردونو انسانان په نړۍ کې ژوند کوي. انسان له ټولنې پرته ژوند نه شي کولای او د خپل ژوندانهٔ د هوساینې لپاره مرستې ته اړتیا لري. مرسته غوښتل او مرسته کول پوهاوي ته اړتیا لري او د پوهاوي تر ټولو لومړنۍ او غوره وسیله ژبه ده.

په نړۍکې څه د پاسه شپږ زره ژوندۍ ژبې شته، خو یواځې سل شاوخوا یې لیکنۍ ارزښت لري. د بشري تاریخ له ژورې مطالعې څخه څرگندېږي چې په نړۍ کې ډېرې ژبې رامنځ ته شوې، ځینې یې او س د معاصرو ژبو په تکاملي پړاو کې دي، ځینې یې له تکاملي پړاوه تېرې او متروکې شوې او یا د متروکېدو په حال کې دي. په افغانستان کې نږدې ۴۰ ژبې شته دي، د ژبو دې رنگارنگۍ افغانستان ته ښکلا وربخښلې ده.

د یوې ژبې راځلېدا، پرمختگ او پایښت د هغې ژبې په ذاتي څرنگوالي پورې دومره تړاو نه لري، بلکې په هغهٔ رول او اهمیت پورې تړلی دی چې د هغې ژبې ویونکي یې په علمي، سیاسي او اقتصادي ډگر کې لري. هغه ژبې چې له غني فرهنگ او پیاوړي اقتصاد سره پر یوهٔ ځواکمن مرکزي حکومت تکیه ولري، د پایښت او پرمختگ لپاره د نورو ژبوپه پرتله زیات مقاومت کوي. هرڅومره چې یو قوم له پرمختگي بهیره وروسته پاتې وي، ژبه یې هم خپره وره او وروسته پاتې وي.

په افغانستان کې ځینې ژبې او په ځانگړي ډول داردي گروپ له پرمختگي بهیره وروسته پاتې دی. د داردي گروپ له وروسته پاتې، خو ژوندیو ژبو څخه یوه هم گوري او بله یې د پالوري یوه لهجه (ساوي) ده.

لکه چې لازمه ده کورنیو ژبپوهانو گوري او پالوري هغسې څېړلې نه دي. بهرنیو ژبپوهانو هم په دې اړه ډېرې لږې څېړنې کړې دي. په پښتو ژبه کې په دې اړه په شته معلوماتو خو ښخي حساب نه شي کېدای، نو د دې څېړنې اهمیت په دې کې و چې دا ژبې په علمي ډول د یوې علمي اداري له خوا په پښتو ژبه وڅېړل شي.

لوستونکي د لومړي ځېرکي په لوستلو سره پوهېدای شي چې د دې موضوع په اړه شوې څېړنې د نشت برابرې دي، نو د دې څېړنې یوه موخه دا ده چې د هېواد د دې دوو کم نفوسو ژوندیو ژبو (گوري او پالوري) د فونولوژۍ او مورفولوژۍ په اړه مینه‌والو ته څه

ناڅه معلومات وړاندې شي. بله يې دا ده چې د دغـو دوو قومونـو د اتنيکـي اړيکـو پـه اړه معلومات تر لاسه شي.

د پښتو څېړنو نړيوال مرکز په همدې موخه ما ته د څېړنپوه علمـي رتبـې تـه د لـوړاوي لپاره له پښتو سره د ګورې او پالوري ژبې پرتليزه څېړنه راوسپارله.

د دې ژبو پرتليزې څېړنې طبعاً تشريح ته اړتيا درلوده او لـه بلـې خـوا مـا هـم لـه دغـو دواړو ژبو سره لازمه اشنايي نه درلوده، خو د دغو ژبو له ويونکو سره په يوۀ چاپېريال کې را لوی شوی يم. د دغو دواړو ژبو زيـاتره ويـونکي پـه پښـتو داسـې آزاد غږېـدلای شي چې څوک يې په محاوره کې کومه نيمګړتيا هم نه شي محسوسولای، نو دې کـار لـه مـا سره پـه څېړنيز ډګر کې مرسته کوله.

څرګنده ده چې په کتابتونو کې د ګورې او پالوري ژبې په اړه ښخي لږ مـواد تـر لاسـه کېدل، نو زما د پروژې بشپړتيا زياتره پـه سيمه‌ييزو څېړنـو ډډه لګـوي، خـو دوې مياشـتې د دوو قومونو او دوو ژبو د څېړنې لپاره ډېـر لـږ وخـت و او لکـه چـې مـا هـوډ درلـود، هسـې څېړنې په کې نه شوې ترسره کېدای.

ما به تل د پښتو ګرامر يو چمتو شوی متن له ځان سره درلـود. لـه ګوريـانو او سـاويانو سره به مې د هغۀ متن پر بنسټ مرکې کولې. د پښتو متن په مقابل کـې بـه مـې کـټ مـټ د ګورې او پالوري ژبې جملې ليکلې، وروسته به مې تحليل او توضـيح کـولې او د ګـورې او پالوري ژبې د ګرامر لپاره به مې ورڅخه يوه پايله رااېستله او ثبتوله.

له همدې امله ويلای شم چې ما د دې څېړنې په ترڅ کې زياتره له پرتليز او تشريـحي مېتود څخه کار اخيستی دی، خو کله کله مې له اړتيا سره سمه کره‌کتنه هم کړې ده.

ګور قوم د کونړ ولايت د ناړۍ ولسـوالۍ پـه نـاړۍ، بريکـوټ او دوکـلام کليـو او څـه شمېر په نېشه‌ګام کلي کـې اوسـېږي. د پښـتونخوا د چـترال پـه ارنـوۍ، د ديـر کوهسـتان پـه شېرينګل، تل، راجکـوټ، لامـوتۍ، بيـاړ او د سـوات کوهسـتان پـه کـالام، اوشـو، اتـروړ او هريانۍ کې اوسېږي.

پالور"ساوي" قوم د کونړ ولايت د ناړۍ په ساو، د دير کوهستان په کلکوټ، د چـترال په اشرېت، لر او بر بيوړي، ګاس او ګوماډنډ کې اوسېږي.

که څه هم دې قومونو او دې ژبو ته بېلابېل نومونه کارېدلي او لا کارېږي، خو زمـا پـه اند د لومړي قوم لپاره تر ټولو سم نوم "ګـور" او د ژبـې لپـاره يې "ګـورې" دی. غـوره بـه وي

چې دې قوم ته منسوب یوګړي نرینه ته "ګور" او ډېرګړو ته یې "ګوریان" او یوګړې ښځینه ته یې "ګورۍ" او ډېرګړو ته یې "ګوریانې" وویل شي.

د ساوي قوم لپاره علمي نوم "پالور" او د ژبې لپاره یې علمي او مشهور نوم هماغه "پالوري" دی. غوره به وي چې دې قوم ته منسوب یوګړي نرینه ته "پالورۍ" او ډېرګړو ته "پالوریان" او یوګړې ښځینه ته یې "پالورۍ" او ډېرګړو ته یې "پالوریانې" وویل شي.

ما په دې اثر کې د ساوي پر ځای "پالوري" نوم کارولی دی. ساوي د پالوري ژبې یوه لهجه ده، نو د دې ژبې علمي نوم "پالوري" دی نه ساوي، ځکه ساو د کلي نوم دی، د اتنیک نوم نه دی. د پالوري نورې لهجې د پښتونخوا په چترال او دیر کې ویل کېږي.

د ګوریانو او پالوریانو د اتنیک په اړه بېلابېل نظریات او ادعاوې شته، د ساري په ډول کتي‌ژبي نورستانیان ګوریان د "ستره"په نامهٔ یادوي او خپل ورونه یې ګڼي. ځینې ګور ځانونه قریش ګڼي. ځینې لا ادعا لري چې د سکندر اولاده ده او دې‌ته ورته ځینې نورې ادعاوې هم شته، خو د مستقلو ژبو شتون، په ژبني وېش کې د ژبځانګو بېلوالی، د غږیز سیستم ځینې توپیرونه او د څومره‌والي او څرنګوالي له مخې د نورستاني ژبو او ګوري ژبې فولکلور په دې نظریاتو او ادعاوو د بطلان کرښه راکاږي.

عجیبه لا دا ځینې ګوریان بیا ادعا لري چې ساوي د ګوري لهجه ده او ساویان له اتنیکي اړخه ګوریان دي، خو دلته هم د مستقلو ژبو شتون، د ژبځانګو بېلوالی‌او د غږیز سیستم ځینې توپیرونه دا ادعاوې هم باطلوي.

په ګوري ټولنه کې د پام وړ شمېر پښتانهٔ شته چې زیاتره یې مشوانۍ دي، خو ټول په ګوري ژبه غږېږي. په ساوي ټولنه کې لوی اکثریت پښتانهٔ دي. پښتانهٔ یې د چوکیتو او ګبرو په نامهٔ یادېږي. چوکیتي د ماموند قبیلې وګړي دي او ځینې ګبري ځانونه سلارزي بولي، خو د ساو ټول خلک په ساوي یا په سیمه‌ییزه اصطلاح پر ساوجي ژبه غږېږي.

د افغانستان په ځینو نورو سیمو کې هم د ګډو اوسېدو په پایله کې ډېر شمېر پښتنو خپله ژبه له لاسه ورکړې او په نورو ژبو غږېږي. د ساري په توګه په هرات کې

ډېر پښتانهٔ په دري ژبه غږېږي. د بدخشان د مرکز فیض آباد د (گـذر افغـاني) پښـتانهٔ ټول په دري ژبه غږېږي. د پشه‌یانو په گاونډ کې په دره‌نور او لغمان ولایت کـې ډېـر پښتانهٔ په پشه یي غږېږي، نو گډې اوسېدنې هرومرو دا پایلې لري چې د تفـاهم لپـاره یوه گډه ژبه غوره کړي. دا یوه پوښتنه رامنځ ته کېږي چې په ساو کې څنگه ډېرکیو د لږکیو ژبه خپله کړې ده؟! زما په اند ښایي د کلي مشرۍ او واکدارۍ په دې مسأله کې رول درلودی وي.

د داردي ژبو په اړه منظمې او سیستماتیکې څېړنې د ۱۹مـې پېړۍ پـه وروسـتۍ لسیزه کې پیلېږي. مورگن سـتېرن زیـاتره د اشـکو، پره‌سـون، وایگـلي، دامـیلي، گـور، شوماشتي، بشکاریک او پالوري ژبو او لهجو د گرامري قواعـدو او فونیټیـک پـه اړه آثار لیکلي او تر ۱۹۲۴ز وروسته افغانستان او پښتونخوا ته هم راغلی دی.

علمي کړۍ د گوري او پالوري ژبې د غږیز نظام، وییپوهنې، سیمو، د ویونکـو د شمېر او علمي- فرهنگي حال په اړه تر اوسه ډېر لږ معلومات پـه لاس کـې لـري. مـا هڅه کړې د دغو ژبو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړم، چې طبعـاً نـوي دي. د گوري او پالوري په اړه دا اکاډمیکه څېړنه په حقیقت کې د بنسټ ډبره ایښودل دي.

د همدې سیمې د یوهٔ استوگن په توگه تر دې مهاله د دې ژبو او ولسـونو پـه اړه ډېر څه ماته هم گونگ وو، لکه: د ساو، اشرېت او بیوړي د کلیو ژبه چې له ډېرو لږو لهجوي توپیرونو پرته سره یوه ده، تر یوهٔ مهاله ما هم گـوري گڼلـه. دا تېروتنـه ځینـو نورو کسانو هم کړې ده.

د دې اثر په لیکنه کې زما کار زیاتره په سیمه‌ییزو څېړنو او گروپېزنو ډډه لگوله، ځکه چې د دې دواړو ژبو او ولسونو په اړه مې په کورنیو مأخذونو کـې د یـادولو وړ څه نشو موندلای. په دې څېړنه کې د یوې موضوع په اړه څو څو ځله مرکې شوې او څو څو ځله په متن کې بدلونونه راوستل شوي دي، نو ځکه مو د مرکـو برخـو تـه پـه ډېرو ځایونو کې مأخذونه نه دي ورکړي.

د څېړنې پر مهال بریاوې او ستونزې سره ملې وي، نو د دې څېړنې په بهیر کـې د بریاوو ترڅنگ، له ځینو ستونزو سره هم مخامخ وم، د ساري په ډول:

- د ناامنۍ له امله سیمې ته ورتگ ستونزمن و او په کتابتونو کې د دې ژبو په اړه څه نه تر لاسه کېدل. ډېر ځله به مې په اسعدآباد، جلال‌آباد او ان کابل کـې د خپلـې

ښېړنې د ترسره کولو لپاره د کسانو موندلو هڅه کوله. څرګنده ده چې دلته د اوسېدونکو ګوریانو او پالوریانو ژبه د نورو ژبو له ولسونو سره د ګډې اوسېدنې له امله د سیمې د هغو په پرتله اغېزمنه او کمزوري وي، خو ما بیا بیا هڅه کړې چې خپل معلومات کوټلي او باوري کړم.

د یادولو وړ ده چې ما خپلې سیمه ییزې ښېړنې زیاتره د ډېورنډ له کرغېړنې کرښې را دې خوا ترسره کړې دي، خو د چترال په اشربت کې مې د پالوري ژبې په اړه په ۱۳۷۸ل کې هم ښېړنې ترسره کړې وې. هغه مهال مې د ګوري په اړه ښېړنې بللې وې، خو تر مطالعې وروسته پوه شوم چې ګوري او پالوري(ساوي لهجه) دوې جلا ژبې دي.

- د ګوري او پالوري دواړو په اړه ډېرې لږې ښېړنې او لیکنې شوې دي، چې د دغو ژبو په اړه شته پوښتنو ته ځواب نه شي ویلای، نو په دې اړه ښېړنه په حقیقت کې له صفره پیلول وو.

- لکه چې لازمه وه، د دواړو ژبو ولسونو هغسې مرسته نه کوله، ښایي ځینو سوداګریو به بدګومانه کړي وو.

- په دواړو ژبو کې د واحد او متفق تلفظ نۀ شتون یوه لویه ستونزه وه چې څو څو ځله یې د راغونډو کړو موادو سمون او بدلون ته اړ ایستی یم. ان تر دې چې څلور کسه لوستي به یو ځای ناست وو، هر یوۀ به د بل تلفظ ردلوۀ او خپل به یې سم ګاڼۀ.

- بله ستره ستونزه د فونیټیک په برخه کې له سمبولونو څخه کار اخیستنه وه چې لیکل به یې هم ستونزمن وو او زیاتره وخت به یې په متن کې ډېرې ګډوډۍ رامنځ ته کولې. په دې ښېړنه کې مې د عبدالحکیم هلالي په زیار له چاپ "د فونیمیکې الفبې لاربښود" څخه ګټه اخیستې ده، خو د ګوري او پالوري د ځینو غږونو لپاره مې د اړتیا له مخې څو نوي ګرافیمونه هم وضع او کارولي دي. د فونیمیکې الفباء لښتلیک د دې اثر په(۲مه ګڼه لښتلیک ۸۹- ۹۰ مخونو) کې کتلای شئ

- زه ادعا نه کوم چې ما د ګوري او پالوري ژبو په اړه جامع او مانع ښېړنه کړې ده، خو په زغرده ویلای شم چې په پښتو، دري او اردو ژبو کې دا د پالوري او ګوري

ژبې او په ځانګړي ډول د دغو ژبو د ګرامر لیکنې پـه اړه لـومړنی او تـر ټولـو بـاوري هڅه ده.

- د غبږیز نظام په برخه کې ما د دواړو ژبو د غږونو په اړه عام بحث کـړی دی، یعنې ټول هغه غږونه چې اوس په دغو ژبو کې په یو ډول نه په یو ډول کاریږي، هغـه مې د دغو ژبو غږونه بللي دي.

دا اثر په پنځو څپرکو کـې بشـپړ شـوی دی: لـه دود سره سـم لـومړی څپرکـی د موضوع شالید ته ځانګړی شوی او د موضوع په تړاو په کـې ۲۳ آثـار معـرفي او څه ناڅه ارزول شوي هـم دي. دوهـم څپرکـی د ګوریـانو او پالوریـانو اتنیکـي پېژندنـه، استوګنځایونه او هم د ګوري او پالوري ژبې پېژندنه رانغاړي. په دریيم څپرکي کې له پښتنو سره په ټولنیز – اقتصادي او علمي – فرهنګي ډګرونو کې د ګوریانو اوسـاویانو اړیکي او خپښی څېړل شوې دي. په څلورم څپرکي کې لـه پښـتو سره د ګـوري ژبـې غبږیز نظام، صرف او نحوه پـه پرتلیـز ډول څېـړل شـوي دي. پـه دې څپرکـي کـې پـه ګوري کې د پښتو د پوروییونو بېلګې هم په ګوته شوې دي. ورپسې د ګوري ژبـې د شاعرانو لنډه پېژندنه او د هغو د شعرونو بېلګې خوندي شوې دي. د دې څپرکـي پـه پای کې ځینې ګوري متلونه هم راټول شوي دي. په پنځم څپرکي کې له پښـتو سره د ساوي لهجې غبږیز نظام، صرف و نحوه په پرتلیز ډول څېړل شوي دي. په دې څپرکي کې هم په ساوي لهجې کې د پښتو پورویيونو بېلګې ښـودل شـوې دي. بیـا د سـاوي لهجې د شاعرانو لنډه پېژندنه او د هغو د شعرونو نمونې خوندي شـوې دي. ورپسـې ځینې ساوي متلونه هم لیکل شوي دي. دا څپرکی په پایلې، وړاندیزونو او مأخـذونو سره پای ته رسیږي.

په دې څېړنه کې مې د پښتو ګرامر متن د محمدصـابر خویشـکي لـه اثـر "پښـتو غږپوهنه او ویيپوهنه - څلورم چاپ ۱۳۸۸ل"څخه اخیستی دی چې ګوري او سـاوي به مې له هغهٔ سره پرتله کولې او بیا به مې شنل، نو ځکه مې هـر ځـای د ګرامـر پښـتو متن ته مأخذ نه دی ورکړی.

همدا رنګه مې د نحوې پښتو متن د فریداحمد هلال له اثر "پښـتو نحـوه" څخـه رااخیستی دی، نو د نحوې په برخه کې مې هم پښتو متن ته پر لـه پسـې مأخذونـه نـه دي ورکړي.

له لیکلړ سره سم ما باید د ګوري او پالوري ژبې د ګرامرونو یواځې بېلګې وړاندې کړې وای، نه نسبي بشپړ ګرامر، خو ما له خپل توان سره سم دا خپل مسوولیت وګاڼه چې د دې دواړو ژبو د نسبي بشپړ ګرامر کښښ هڅه وکړم.

د ګوري او پالوري په اړه زما څېړنې یواځې په کونړ ولایت پورې محدودې وې، که څه هم په اویایمو کلونو کې مې د چترال په اشرېت درې کې د پالوري په اړه یوه څېړنه کړې وه چې له هغې مې هم په دې اثر کې ګټه اخیستې ده، خو پالوري او ګوري ژبه د پښتونخوا په نورو سیمو کې هم ویل کېږي چې ما هلته څېړنې نه شوې ترسره کولای؛ خو له ۲۰۱۸- ۲۰۲۱زېږدي کال پورې مې د پي ایچ ډي په رساله کې بیا له ساوي لهجې سره د پالوري ژبې د کلکوټ، اشرېت او بیوړي لهجې وڅېړلې. د دې وروستۍ څېړنې په پایله کې د پالوري ژبې د لهجو د توپیر او نږدېوالي په اړه پوه شوم.

یو بل وضاحت چې اړین دی، پالوري ژبه چې د کونړ ولایت د ناړۍ ولسوالۍ په ساو کلي کې ویل کېږي، دوې لهجې لري چې د یوې لهجې ښتنان (ساوخېل) او د بلې هغه اینګر (آهنګر) بولي، ما یواځې د ساوخېلو لهجه څېړلې او ثبت کړې ده. د ساوخېلو له لهجې سره د اینګرو د لهجې د توپیر په اړه مې څه بېلګې وړاندې کړې دي.

د پشه یي الفباء فونیمکه بڼه هم د پښتو ټولنې د فونیمیکې الفباء پر بنسټ د یوه کمېسیون له خوا جوړه شوې ده، نو ما هم په دې څېړنه کې د ګوري ژبې او ساوي لهجې د مفاهیمو د دقیق تلفظ ښودنې لپاره هغه فونیمکه الفباء کارولې ده.

په دې اثر کې د اشخاصو او ځینې ځانګړې نومونه زیاتره په ("") او د ځایونو هغه په () کې نیول شوي دي.

په پای کې دا یادونه اړینه بولم چې که څه هم ما په دې څېړنه کې تر خپل ټاکلي لیکلړ زیات کار کړی دی، خو لا هم نور کار او څېړنې ته اړتیا شته، ځکه چې په دې اړه شوي کارونه د نشت برابر دي او د دغو دواړو ژبو په اړه د شته پوښتنو د ځوابولو لپاره بسنه نه کوي. ان شاءالله په راتلونکي کې به د دې څېړنې د لا بشپړاوي او د ګوري او پالوري ژبې د لومړنیو ګرامرونو د بشپړولو هڅه کوم.

له لارښود استاد څېړنپوه نصرالله ناصر، څېړنپوه مولاجان تنیوال، د کونړ

پوهنتون د انګلیسي څانګې له استاد حضرت عثمان مشواڼي، له مخلصو ملګرو ضیاءالله ګور او اکرام‌الله اسرار، انجینر فخرالدین ساوجي، مولوي سراج‌الدین او مدیر مصلح‌الدین څخه د زړه له تله مننه کوم چې ټولو راسره په یوه یا بل ډول اخلاصمندانه مرستې کړې دي.

له ښېرنپوه محمدنبي "صلاحي" هم مننه کوم چې د دې اثر سیاسي ایډېټ او اهتمام یې پر غاړه واخیست.